## <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## ډرون الوتکې په غزه کې د ماشومانو د وژلو لپاره جوړې شوې دي

## (ژباړه)

ډاکټر هادي بدران چې یو برېټانیایی انستیزیست دی په دې وروستیو کې له غزې څخه تر راستنېدو وروسته په یوه مرکه کې د یوه روغتیایي متخصص په توګه خپل نظریات وړاندې کړي. هغه وویل چې د داسې ټپونو شاهد و چې د خپل کاري تاریخ په اوږدو کې یې نه وو لیدلي. هغه تنکي ماشومان چې په مستقیمه توګه یې پر څېره مرمۍ لګېدلې او ټپیان شوي، ډېری یې د ژامې د ماتېدو او د سر د یوې برخې د پړسوب لامل شوي دي. دغه مرمۍ د سناېپر وسلو په وسیله له لرې واټن څخه نه دي ویشتل شوې بلکې د عیني شاهدانو په وینا، دغه مرمۍ د بې پیلوټه الوتکو په څېر د کوچنیو روټرونو په وسیله توغول شوې چې له لرې واټن څخه کنټرولېږي. دغه بې پیلوټه الوتکې د اوربېدو او لیدلو وړتیا لري چې د خلکو د قد یا ونې په اندازه الوتنه کوي او د عملیاتو پر مهال پوښتنې کوي. دوی ان د دې وړتیا لري چې پیغامونه ورکړي لکه "جنوب لوري ته حرکت وکړئ" یا "سیمه پرېږدئ" او داسې نور او پرته له دې چې اداره کوونکي ته زیان ورسوي، په هر مطلوب وخت کې قربانیان په نښه کوي.

هغو جراحانو چې له دغه ډول بې پیلوټه بریدونو څخه د ژوندي پاتې شویو کسانو عملیات یې کړي، وایي چې د دې ډول مرمیو ټپونه له ټولو نورو ډولونو سره توپیر لري. د دغه مرمیو ځانګړتیا دا ده چې بیرون چاودنه کوي او د بدن غوښې ته سخت زیان رسوي، چې هیڅکله ټپ ته په اسانۍ سره نه ننوځي او که دننه شي په اسانۍ سره بهر نه راوځي. هغوی دا هم وویل چې د کار په ساحه کې کارمندانو ورته خبرداری ورکړی چې دغو بې پیلوټه الوتکو ته په ځیر مه ګورئ، ځکه چې د څېرې پېژندلو وړتیا لري او ښایي ناڅاپه مو وولي. په روغتونونو کې د هغه د کار یوه مهمه موندنه دا ده چې دغو بې پیلوټه الوتکو د لوبو پر مهال ماشومان په نښه کړي او له همدې امله د قربانیانو ترټولو لوی شمیر بې ګناه او زیان منونکي خلک وو.

دا په غزه کې زموږ د ماشومانو له لوري تجربه کېدونکې د ویرې او وحشت بله څېره ده! کله چې لوبې د ژوند او مرګ خبره وي، نو بیا د امت میندې د کوم ډول ټپونو تمه کولای شي؟ دا په داسې حال کې ده چې د مسلمانانو حکامو او حکومتونو د غزې د مسلمانانو پر وړاندې وحشتناکو ظلمونو سترګې پټې کړې او له یهودي قاتل دولت سره د سولې، اړیکو د عادي کولو، سوداګریزو او سیاسي تړونونو ته دوام ورکوي. تر څو چې دا خاینان پر خپل ځای پاتې وي، د فلسطین خاوره به هېڅکله ازاده نه شي او زموږ وروڼه او خویندې به هېڅکله امن نه شي!

موږ د مسلمانو له لښکرو څخه پوښتنه کوو، چې تر کومه حده د هغو ډارنو حکامو، چې تاسو یې په چوپړ کې یئ، جنایتونه ګورئ او صبر پرې کولای شئ. په داسې حال کې چې تاسو د خپلو وروڼو او خویندو د وژلو د مخنیوي لپاره له خپل نظامي توان څخه خبر یئ!؟ له شک پرته ستاسو وینه د غزې د مسلمانانو د ډېرو کړاوونو له امله په جوش راځي، خو تاسو اړ یئ چې د دغو یهود پلوه حکامو له لوري په خپلو اډو کې پاتې شئ! د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ستاسو امت پر تاسو غږ کوي چې د خپل رب سبحانه وتعالی غوښتنې ته ځواب ووایئ، ترڅو د فلسطین د مسلمانانو دفاع وکړئ او سپېڅلې خاوره له دغه اشغال او نسل‌وژنې ازاده کړئ. موږ له تاسو څخه غواړو چې د وخت له فرعونانو سره خپل بیعت مات کړئ چې ستاسو امت ته یې شا کړې، ستاسو له دین سره یې خیانت کړی او ستاسو نوم یې بد کړی دی. د دوی تاج و تخت راوپرځوئ او د اسلام د رهبرۍ، د نبوت پر منهج خلافت نظام او دولت جوړولو لپاره خپل نصرت (مادي ملاتړ) ورکړئ، تر څو د هغه تر چتر لاندې د مسلمانانو، د اسلام د مدافعینو او زموږ د خاورې د ازادوونکو په توګه خپل اساسي رول ولوبوئ. د صلاح الدین ایوبي په څېر سترو قومندانانو پر پلونو پل کېږدئ او د الاقصی او د فلسطین د ټولې سپېڅلې خاورې د آزادولو ستر ویاړ ترلاسه کړئ!

**«فَلْيُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يَشْرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا» [نساء: ۷۴]**

**ژباړه:** *«باید د الله تعالی په لار کې هغه کسان وجنګېږي چې د اخرت په بدل کې د دنیا ژوند پلوري (او فاني له باقي سره بدلوي). او څوک چې د الله تعالی په لاره کې وجنګېږي او ووژل شي یا برلاسی شي، هغه ته به موږ هرو مرو ستر ثواب ورپه برخه کړو.»*

**د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخه**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د شوال ۳مه**

**۲۰۲۴م کال، د اپرېل ۱۲مه**

**د صدور ګڼه: ۰۳۲/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**